# مطبوعاتي اعلاميه

## د امريکا د متحده ايالاتو نړيوالي پرمختيايي اداري د ملکي قربانيانو سره د ۳۰ ميليونو ډالرو په ارزښت د مرستې نوی پروګرام اعلان وکړ

**د ۲۰۱۵ کال د مي د مياشتې۵ مه نيټه، کابل، افغانستان:-** د امريکا د متحده ايالاتو نړيوالي پرمختيايي اداري (USAID) د جګړې د قربانيانو سره د سملاسي او ځانګړې مرستې د ترسره کولو په موخه د ۳۰ ميليونه امريکايي ډالرو په ارزښت يو نوی پروګرام اعلان کړ.

د افغانستان د ملکي مرستو دری کلنی دريم پروګرام (ACAP III) به د هغو بې ګناه ملکيانو سره بشري مرستې ترسره کوي چې په هيواد کې د روانې جګړې او يا هم د جګړې ځخه د پاتې شوو چاوديدونکو توکو له کبله ورته مالي او ځاني زيان رسيدلی دی. پدې کې هغه ډيښې هم راځي چې د ناچاودلو ماينونو، مهماتو او نورو خطرونو له کبله رامنځ ته کيږي.

دا پروګرام به په افغانستان کې د ماين پاکۍ د هڅو د همغږۍ د مرکز سره په همکارۍ د ملګرو ملتونو د ماين پاکۍ د خدمتونو د دفتر لخوا پلی شي. د افغانستان د کار، تولنيزو چارو، شهيدانو او معلولينو وزارت او د افغاني حکومتي او ناحکومتي مؤسسو يوه شبکه به هم ددې مرستې په برابرولو کې ونډه واخلي.

ددې پروګرام اصلي موخې: ۱) د قربانيانو د اړتياوو د پوره کولو په موخه د سملاسي روغتيايي او نورو جنسي مرستو برابرول؛ ۲) په غوره توګه د جګړې په ترڅ کې د زيانمنو شوو د اړتياوو د پوره کولو لپاره د مرستې په موخه د اړوندو وزارتونو او نورو حکومتي ادارو روزل؛ او ۳) د عامه پوهاوي او عدالت غوښتنې د هڅو زياتول دي.

د ۲۰۰۷ کال راهيسې دا د جګړې د قربانيانو سره د متحده ايالاتو د رواني مرستې دريمه برخه ده. د ACAP III پروګرام هغه ميکانيزمونه پياوړي کوي چې د تيرو دوو پروګرامونو پربنسټ چې له پيل ځخه يې د ۱۳۵۰۰ ځخه د زياتو کورنيو سره مرسته وکړه، جوړ شوي وو.

د امريکا د متحده ايالاتو د نړيوالې پرمختيايي اداري د پروګرامونو په اړه د لازياتو معلوماتو او د مرکې د غوښتنې لپاره، مهرباني وکړئ د KabulAIDdoc@usaid.gov سره اړيکه ونيسئ او يا http://www.usaid.gov/ afghanistan ويب پاڼې ته مراجعه وکړئ.

# # #

*The American people, through the U.S. Agency for International Development, have provided economic and humanitarian assistance worldwide for more than 50 years.*

USAID on Facebook | USAID on Twitter | USAID on YouTube | USAID on Flickr